سودا د كرشمو كي په مجمر وځليدي
يود د اسمان اوبنكه څنجره كي د صدف شوي
اي پرخي د سپرلي! د گل په سر وځليدي
«حقيار» دا خو ستا د ليونۍ مينې اعجاز و
چي ځل شوي په هنداره كي جوهر وځليدي

د شملو لښکر

«وفايار»

د شملو لښكر ټوليږي
بيا د حق په لور گواښيږي
لوي واړه دي راټول شوي
پاك جهاد ته هوسيږي
د واحد ملت لپاره
له خپل مال او سر تيريږي
د سپين غر له هسكه سره
د تكبير ناره جگيږي
ملاتړلي خلمي ټول دي
بيا مورچل ته روانيږي
بوه سپين سري مور ولاړه
په دوعا يي جگ لاسونه
د غازيانو بري غواړي
پاك الله ته كړي سوالونه
د حقپال ولس بيرغ ته
غرونو ټيټ كړل خپل سرونه
د غونډيو ، غوويه زړوكي
جوړ د حق دي مورچلونه
څوك يي مخه نيواي نشي
پاريدلي غيرتونه
هندوكش په اشارو دي
مرسته غواړي له سپين غره
د باطل پر ضد غږ اورم
د پامير واخان له سره
د خوښي زيرئ به راوړي
هم له لره هم له بره
كوم خطر چي پيښ هيواد ته
شي به خلاص له دي خطره
دا لويشت لويشت وطن به پاك شي
له فساده او له شره

افغانستان وطنه

ملا اسد الله «حنيفي»

شه صدقه مي لتا وبه لتا ځان وطنه
افغانستان وطنه افغانستان وطنه
هر څه مي ځار شه لتا هر څه لوگي شه لتا
تن او بدن او ځواني مي سپيلني شه لتا
مال او دولت او هستي مي نذراني شه لتا
تا به د سر په بيه ساتم جاويدان وطنه
افغانستان وطنه افغانستان وطنه
يم دي رښتني بچي تا به اباد كرمه بيا
ستا ټول زامن او لونړه به خوښ او ښاد كرمه بيا
ستا دښمنان به گرانه برباد برباد كرمه بيا
سمسور سمسور به كرمه ستا دښته دامان وطنه
افغانستان وطنه افغانستان وطنه
رنگين رنگين به كرمه ستا دغه ښار باغونه
كرم به په وينو خروب ستا د لاله گلونه
نابود نابود به كرمه ستا د غليم ځواكونه
يو ځل مي بياد وركړي په واگه امتحان وطنه
افغانستان وطنه افغانستان وطنه
ستا سر درونه سلام گرانه وطنه زما
ستا جگو غرو ته سلام گرانه وطنه زما
ستا عظمتو ته سلام گرانه وطنه زما
د احمد شاه دغزنوي د ميرويس خان وطنه
افغانستان وطنه افغانستان وطنه
ته تاريخونه لري ته عظمتونه لري
هم ښه وياړونه لري هم گړنگونه لري
ته ستگرونه لري نكړه ځواكونه لري
تا نه دښمن دي په هراس او په لړزان وطنه
افغانستان وطنه افغانستان وطنه
ته مي د سترگو توريي ته مي د زړه قرار يي
ته مي اتابي موريي ته مي بابا يي پلار يي
ته مي كفن او گور يي ته مي كوڅه ديار يي
دريكي اوسه تير له سره (حنفيان) وطنه
افغانستان وطنه افغانستان وطنه
كابل: ۲۹/٦/۱۳۷۲

نظام خانواده در اسلام ٦

پویایی روابط و رشد خانواده

پوهيالي ليلما «يما»

قسمت اول

مسأله تحرك و پويايي سازنده در خانواده موضوع قابل اهميتي است كه بايد به آن توجه جدي مبذول داشته شود . اين تحرك و پوينده گي در خانواده زماني پديد مي آيد كه روابط في مابين اعضاي خانواده به صورت دقيق و سنجيده شده وجود داشته باشد . آنچه روابط في مابين اعضاي خانواده را استحكام بيشتر و استواري زياد تر مي بخشد همانا مسأله اعتقاد مشترك است كه در بحثهاي قبلي به تفصيل از آن سخن رفت .

وقتي ما از خانواده، اسلامي سخن ميگوييم منظور ما آنست كه گروهي از افراد مومن و متعهد با اعتقاد به خداوند در تعاون با همديگر و با همياري هم به شيوه، اسلامي ، ميخواهند زيست كنند و حيات به سر برند .

اين گروهي از افراد در مواقع و موقعيتهاي مختلف زنده گي به همديگر نياز دارند و اگر بخواهند ، ميتوانند نياز هاي همديگر را مرفوع سازند

افراد يك خانواده، اسلامي به صورت تصادفي با هم يكجا نشده اند، بلكه در سلسله مراتب خاصي با هم پيوند دارند كه به طور عموم ميتوان به عنوان مادر، پدر، فرزندان (شامل دختران و پسران خواهران) و برادران، عروسان و دامادان و به همين سان به صورتهاي خواهر زاده ها و برادرزاده ها و نيز نواده ها و به صورتهاي ديگر مادركلانها و پدركلانها ميتوانند بخشبندي شود و همچنان به تناسب روابطي كه از طريق خويشاوندي بدست مي آيد نامهاي گوناگوني كه نماينده گي از روابط و موقعيتهاي خاص ميكند مانند : خسر، خشو، خسربره، خياشنه، ايور، ننو و غيره وجود دارد .

شرايط عيني و اجتماعي جامعه، ما طوري است كه كمتر اتفاق مي افتد كه يك فاميل متشكل از زن و شوهر و فرزندان باشد . بناءً اگر اعضاي خانواده هاي نسبتاً بزرگتر در چگونگي روابط خود توجه نمايند و حركات و سكنات خويش را سنجيده شده اجرا كنند، زمينه براي بروز جارو جنجالهاي خانواده گي كه باعث تيره شدن روابط اعضاي خانواده ميشود كمتر مساعد ميگردد .

در ميان اعضاي خانواده دو گونه پيوند اساسي وجود دارد، يكي پيوند عمودي دو ديگر پيوند افقي چگونگي روابط ميان والدين و فرزندان پيوند عمودي و روابط ميان خواهران و برادران پيوند افقي ميباشد . به همين ترتيب ميتوان روابطي را كه از پيوند هاي خوني، قومي، خويشاوندي، اجتماعي و غيره بدست مي آيد به اشكال مختلف ديگر ترسيم كرد، از جمله رابطه كاكاو برادر زاده ، عمه و برادرزاده ، خاله و خواهر زاده، ماما و خواهر زاده، را ميتوان رابطه، مايل گفت و رابطه يي كه بين زن و شوهر تشكيل ميشود بيشتر به اشكال مجموع همين روابط تبارز ميكند .

معمولاً هر پيوند عمودي نشاندهنده، رابطه، رهبري كننده گي و رهبري شونده گي ميباشد. مثلاً والدين نقش رهبري كننده را دارند و فرزندان نقش رهبري شونده را و پيوند هاي افقي رابطه تعاون و همكاري را ميرساند. طور مثال : خواهران و برادران ميان هم رابطه تعاون و همكاري را دارند و پيوند هاي مايل رابطه رهنمايي و مشورتي را در خود نهفته دارد .

روابطي كه در بالا ذكر شد نشاندهنده، خطوط كلي و اساسي پيوند ها در خانواده ميباشد، اما نظر به موقعيتها، طرز تعليم و تربيه، سطح فكري و رشد محيطي، اين روابط و پيوند ها ميتوانند به اشكال مختلط و متغيير به ظهور برسند. مثلاً والدين با فرزندان، هنگامي كه فرزندان خورد سال اند يك گونه برخورد دارد كه آن از پيوند عمودي منشأ ميگيرد و اما در موقعي كه فرزندان از رشد كافي تعليمي و تربيتي و فكري برخوردار گردند، والدين با ايشان به گونه، ديگر برخورد ميكنند . در چنين موقع والدين به فرزندان حق ميدهند كه در موارد مختلف زنده گي نظر بدهند و يا در تعاون و همكاري با والدين خويش قرار داشته باشند. به همين ترتيب مثالهاي زيادي از ساير روابط ميتوان آورد .

هر قدر اين روابط در خانواده ها دقيقاً در نظر گرفته شود به همان اندازه فضاي خانواده ها گرم و صميمي بوده و تحرك و پوينده گي سالم كه رشد خانواده را باعث ميگردد ، به وجود مي آيد .

تحرك و پوينده گي در خانواده ها زماني از ميان ميرود كه پيوند هاي افقي، عمودي و مايل ميان اعضاي خانواده به صورت مشخص ، دقيق و متناسب به اوضاع و احوال پديد آمده نتواند . يكي از علل عمده يي كه اعضاي خانواده نميتوانند با هم به صورت درست ارتباط قايم كنند، اين است كه تحليلهاي اعضاي خانواده از مسايل و موضوعات مختلف زنده گي، بر اساس فطرت و اسلام عيار نيست و بيشتر تحت تأثير تحليلهاي تاريخي و زماني قرار دارند، مثلاً والدين با شرايط خاص خود و با موقعيتهاي ويژه، زمان خود تربيه شده اند . اگر تربيه، آنها مطابق فطرت و با اثر پذيري از آموزشهاي اساسي اسلامي باشد، مشكلي در تربيه فرزندان نميداشته باشند و اما اگر بيشتر تحت تأثير شرايط زندگي تاريخي و عصر خود شان قرار داشته باشند و نياز زمان فرزندان را درك نكنند، در اين صورت كمتر ميتوانند نياز هاي فرزندان را مرفوع سازند ، و فرزندان هم نسبت نديدن آموزشهاي اساسي نميتوانند تكامل فطري را از تغييراتي كه در زمان رخ ميدهد فرق كنند و نيز نميتوانند موقعيت خود را درست تشخيص دهند ؛ بدين لحاظ ميان دو نسل تضاد ايجاد ميشود .

اين تضاد باعث ركود و تحجر در خانواده گرديده و خانواده را از پويايي كه در فطرت وجود دارد مانع ميشود . در حاليكه اگر مطابق اساسات دين مقدس اسلام رفتار صورت بگيرد، تفاهم همه جانبه ميان دو نسل ايجاد ميشود و نسل پيشتر با نسل نو تر هماهنگي پيدا ميكنند و همديگر را كمك و ياري ميرسانند .

آنچه در عيار شدن خانواده ها مطابق اساسات اسلامي ما را ياري ميرساند در قدم نخست توجه به مسأله رهبري در خانواده است .

معمولاً در خانواده ها زن و شوهر به عنوان رهبران اصلي خانواده ميباشند. هر قدر ميان زن و شوهر اعتماد متقابل وجود داشته باشد ، به همان اندازه مسأله رهبري در خانواده خوبتر حل ميگردد، در اين صورت هر جانبي كه در يك كار آگاهي بيشتر داشته باشد ابتكار عمل را بدست گرفته و با حاصل كردن قناعت جانب مقابل به همياري هم به اجراي آن كار ميپردازند . در چنين خانواده ها مسأله آمريت و مأموريت و حاكميت و محكوميت وجود ندارد ، بلكه زن و شوهر به همكاري هم در حل مسايل ، معضلات و پرابلم هاي خانواده تلاش ميورزند و به فرزندان خويش هم حق ابراز نظر در حل مسايل خانواده گي را ميدهند و بدين ترتيب اعتماد به نفس را در وجود شان تقويت مينمايند و مطابق نياز عصر و زمان به تربيه، آنها همت ميگمارند .

هر قدر براي فرزندان از طرف والدين حق ابراز نظر در حل مسايل خانواده گي داده شود به همان اندازه مسأله رهبري به صورت غير مستقيم در وجود شان رشد مينمايد و موفقيت آنها را در هنگام تشكيل خانواده، مستقل در آينده تضمين مينمايد .

ادامه دارد

ستاسو ليکونه زموږ ځوابونه

خداي «ج» د طالبانو په لاس خارق العاده فتوحات سرته ورسول

د طالبانو د اسلامي نجات بښونكي تحريك محترمو مسؤولينو !

السلام عليكم و رحمت الله و بركاته

هيله ده چي په خپلو اسلامي مقاصدو او اهدافو كښي د تل لپاره سر لوړي، كامياب او بريالي و اوسئ . خداي «ج» دي ستاسي دغه نه ستړي كيدونكي هلي ځلي او اصلاحي كارونه په خپل دربار كښي قبول كړي . آمين .

محترمو او قدرمنو ورونو ! پدي كښي شك نشته چه د افغانستان د تباهي كښتي ستاسي مباركو په كوښښونو د نجات ساحل ته نژدي شوي او كه خداي«ج» كول ډير ژر به دغه څو قدمه پاتي لار هم خپل پړاو سرته ورسوي او افغانستان به په كامله توگه د كمونيستي پاتي شو نو ، ورانكارو او سړي وژونكو څخه د آرامي ساه واخلي . دغه طلايي افتخارات ستاسي په لاس گټل شوي او ستاسي د بي كچه زيار، كوښښونو او قربانيو محصول دي .

محترمو ورونو ! كه موږ په دغه له افتخاراتو څخه وكه لار كښي جسماً ستاسي په جنگ كښي قرار نلرو، خو باور مو وشه چه زموږ روح ، زړه ، فكر او د اخلاص څخه ډكي دعاگاني ستاسي د پاكي لاري د سربيندونكو سره جنگ په جنگ د حركت په حال كښي خپلي ايماني دندي سرته رسوي او په هغه څه د تائيد كرښه پدي چه ستاسي د مباركو هاند او هلو ځلو سبب د افغانستان مظلوم او مسلمان ملت ته والي شوي دي . تر ټولو د مخه په افغانستان كښي د اسلامي شريعت په كامله توگه نفاذ او تطبيق د دغي پيرۍ له سترو كارونو او معجزو په ډله كي راځي ، ددي تر څنگ ملت د كامل امنيت ځينگوالي دغلو لار وهونكو داړه مارانو او ملي خاينانو لاسونه لنډول او له منځه وړل هغه لويي اسلامي دندي دي چه ددغه مسلمان ملت په معاصر تاريخ كښي ساري نلري .

د افغانستان د طالبانو د اسلامي تحريك قهرمانانو ورونو! زه يو ځل بيا ستاسو د هغه قهرمانيو يادونه كوم او د زړه له كومي مباركي وايم چه ستاسو د زيار او سربيندنو له كبله دغه ځوريدلي ملت په برخه شوي دي د كامل امنيت د اسلامي شريعت د نفاذ تر څنگ هغه خيالي پاچاهي دري ووي شوي چي هيواد يي ملوك الطوايفي دول ويشلي وو او هر چا د خپل سر باطل قانون (ظلم او تيري) په خلكو جاري كړي و ، داسي ظلمونه او تيري به د تاريخ اوردوكښي ډير كم راغلي وي .

بل دا چه د طالبانو د اسلامي تحريك د ځوانو بچيانو پلاس لوي خداي«ج» داسي خارق العاده فتوحات او لوي لوي كارونه سرته ورسول چه د اكثره خلكو او ناظرينو په فكر ناشوني ښكاره كيدل خو دا رښتيا ده چه په هره شپي پسي ورځ، په هر تور ماښام پسي روڼ سبا ، هري تياري پسي روښنايي او هره سختي پسي آساني راځي . د نجيب مزاري باطل آرمانونه تر خروار خاورو لاندي د دوي د ناپاكو جسدونو سره يو ځاي د خپل عمل جزا وښي ، د ايتلاف بي شرم ډنهوره چيان كمونيستان او سړي وژونكي ظالمان د خپل تعصب او ناوړه افكارو او اعمالو د جزا لحظي ته ستړگي په لاره دي او د خداي «ج» په توكل سره هغه ورځ ليري نده چه د افغانستان ښكلي اسلامي خاوره د اسلامي تحريك تر بشپړ كنټرول لاندي شي او وركي سبا او د آرامي ساه وباسي .

گل آغا وردک

د ملل متحد خیرات د کابل په مظلومو ښاريانو ولي نه خرڅيږي؟

ددي سوال په اهميت ټول مظلوم هيودوال او د كابل ښاريان ډير ښه پوهيږي او پوهيدلي دي دا ځكه چي مراد اصلي شخص يعني محتاجو خلكو ته نه وركول كيږي چي واقعاً ضرورت ورته لري نو پدي لحاظ دغه مواد د هغو مسؤولينو اشخاصو له خوا يعني د منطقي وكيل په لسري ځل كښي د خپلي كورنۍ غړو ته چه ليكل يي دلته لازم نه دي او په دوهم قطار كښي نږدي خپلوان او يه دريم قطار كښي خپلو دوستانو او د محفل انهوالانو ته او په ځلورو قطار كښي هغو خلكو او اشخاصو ته وركوي چه هغوي ورته په مقابل كي پيسي وركوي . نو مظلوم هيواد له پورتني كټگوريو څخه خلاص دي او په يوي ولي كښي هم نه راځي .

د يادولو وړ خبره خو دا ده چي د هوي منطقي وكيل صاحب په خپله ساحه كښي د ډوډي د كارتو څخه استفاده نه كوي بلكه د بل وكيل په ساحه كښي تريته گټه اخلي دا ځكه چه په وكيل صاحب باندي څوك پوه نشي چه څومره ډوډي خپل كورته راوړي !

نو همدا وجه ده چه زموږ ږوريدلي او كړيدلي هيواد والو او د كابل مظلومو ښاريانو ته چي د ډوډي او نورو موادو كارتو ته ضرورت لري نه وركول كيږي .

اما داسي كورني د كابل په ښار كښي شته چي هم د كوټه پښتوب څو كارتونه هم د معلوليت او هم د ډوډي څو قطعي كارتونه لري چي د همدغي وكيل صاحبانو په واسطه يي لاس ته راوړي دي

نو زه د يو ښاري په صفت چه دغه حالت په خپلو سترگو گورم د محترمو مسوولينو څخه اسلامي، بشري او انساني تقاضا لرم چه په خپل كار او ملل متحد د خيراتونو په توزيع او تقسيم كښي عادلانه تگلاره غوره كړي تر څو واقعاً مستحقو او د احتياج ور كورنيو ته په منظم او عادلانه ډول مواد وويشل شي .

نوراني د كابل له ښار نه

*****

محترم ورور محمد طيب كنكي
زموږ سلامونه هم ومني
گرانه وروره دا دي ستاسو د تشويق لپاره مو د رالېږلي نظم څو بيتونه درته نشر كړل .

اداره

رادرومه خپلواكي راغلي وار دي
مجبور دي اوس په تيښته هر اغيار دي
هغه ډير لښكر مور په گونډوكړي
چي توم يي په نړي كي سور شامار دي
نه راشه په زخمو يي پټئ كيرده
د جگړونه د هر چا زړگي انگار دي
لوروالي د اسلام او ستا راتلو ته
گران شهيد په ځان جوړ كړي شه مزار دي

د لوګر ولایت په مرکز کې د اسلامي تحریک د سپېڅلو شهیدانو د ...

نور عوام خلك یې خپلو مسؤولیتونو ته متوجه کړل . محترم الحاج ملا محمد حسن اخند د خپلو خبرو په یوه برخه کې وویل:

درنو هېوادوالو ! موږ او تاسې د ټولې کفري نړۍ سره د جهاد لاره غوره کړېده او ټوله کفري نړۍ په همدې تکل کې ده چې پر څه ډول وکولای شي دغه سپېڅلي پاڅون له منځه یوسي خو ګرانو هېواد والو! باید په ډاګه ووایم چې که چېرې زموږ په اعمالو کې د خدای«ج» له قانون څخه سر غړونه و نشي او په سمه لاره د خپل پاك هدف په لور ګام پر ګام پر مخ لاړ شو نو که په دې صورت کې ټول نړېوال کفري طاقتونه زموږ پر ضد په یو صف کې سره راټول شي موږ یې هیڅ پروا نلرو او که چېرې مو د خدای له دین او شرعي احکامو څخه سر غړونه وکړه نو هرو مرو به د خدای«ج» او ملت په وړاندې د نورو سر غړوونکو په څېر سپك او ورك شو .

موږ او زموږ امیر هیچا ته ددې اجازه نه ورکوي چې د خدای«ج» له ټاکلي قانون پرته له ځان څخه یو قانون جوړ کړي او د خپل مسؤول مشر له اجازې پرته څوك بندي او یا ورسره د شرعي اصولو په خلاف چلند وکړي .

د محترم الحاج ملا محمد حسن اخند له خبرو وروسته محترم مولوي محمد نبي «محمدي» د غونډې برخوالو ته عالمانه وینا وکړه او د خپلو خبرو په ترځ کې یې وویل : د طالبانو په وجود کې ددې استعداد شته دی چې له هر چا څخه په ښه توګه شرعي نظام تنفیذ او تطبیق کړي نو له همدې امله دا تحریك دوه ډوله دښمنان لري چې یو ډول یې حقیقي او بل ډول یې اضافي او نسبي دښمنان دي حقیقي دښمنان یې بې له کوم ټاکلي سرلیك څخه نړېوال کفر دي ځکه چې کفر د اسلام دښمن دی او د اسلام پیش آهنګان او ساتونکي همدغه دیني طالبان او علماً کرام دي نو اوس چې یواځې د طالب نوم واخیستل شي د نړېوال کفرزامی وګړزېږي او دیته متې راونغاړي چې په افغانستان کې یو داسې مخلوط نظام رامنځ ته کړي چې د کفر او تش په نامه اسلام څخه مرکب او د کفار نماینده او ایجنټ وي .

دویمه ډله دښمنان هغه خاین رهبران او مفسد قوماندانان دي چې هغوی د قدرت، ثروت، او شهرت لیوټیان دي او د همدې شومو اهدافو د لاسته راوړلو له امله داسې تبلیغات کوي چې ګویا طالبان د خپل واك خلك ندي او له دوی سره د امریکا او پاکستان لاس دي خو زه دا خبرې په ډاګه ردوم او وایم چې طالبان د شرعي نظام د پلي کولو په لاره کې تر هر تنظیم او هرې ډلې مثبته قوه او مثبت پاڅون دی .

له دوی څخه وروسته د لوګر والي محترم مولوی ضیا الرحمن مدني خپله عالمانه وینا وکړه او د خپلو خبرو په لړ کې یې هغې ټکي ته اشاره وکړه چې ځینې دښمنان وایي چې ګوندي د طالبانو تحریك د یو ځانګړي ملت په اتکاء راپورته شوی او د هغوی د مشخصو ګټو لپاره جنګیږي ده وویل چې زه د تخار اوسېدونکی یم او تر نن ورځې پورې مې د یو طالب په اعمالوکې هم داسې تنبې تښاتي ندي لیدلي چې د تبعیض بوی ترینه راشي .

په غونډه کې محترم مولوي محمد میر، محترم مولوي صدیق اخند زاده الحاج مولوي محمد صادق او نورو ګڼو علماً و خبرې وکړې ، غونډه د محترم مولوي فضل احمد په دعایې سره پای ته ورسېده.

د پکتیا له ولایت نه په ډېره پیمانه وسلې او مهمات تر لاسه شول

د هغو تصفیوي عملیاتو په ترځ کې چې په دې وروستیو وختونو کې د پکتیا ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې وشول یوه زیاته اندازه وسله او مهمات تر لاسه شویدي .

د باختر اطلاعاتي اژانس خبر راکړ د پکتیا ولایت د استخباراتو ریاست د منسوبینو د هلو ځلو له امله په دې وروستیو وختونو کې درې سوه دوه اتیا ملي متري توپونه، د بي ام یو دوه دستګاه وي ، د بي ام دولس یوه دستګاه، دولس هاوانونه ، دوه زیکو یو ، دوه دهشکي د توغندي د توغولو یوه دستګاه ، درې آر پي جي توغندي ، درې برنو ماشینګنې د مزایلو توي ګولۍ د دهشکې ... او پنځوس صندوقه ګولۍ د هاوان یو سلو پنځوس ماینونه، د پس لګد توپ شپېته ګولۍ، د ټانګ ضد پنځوس ماینونه ، یوه مخابره او یوه زیاته اندازه ډول ډول مهمات تر لاسه شویدي .

خبر زیاتوي دغه وسله او مهمات له څېړنې وروسته ددغه ولایت اړوندو ځایونوته وسپارل شول .

د یو بل خبر له مخې د هغو تصفیوي عملیاتو په ترځ کې چې په دې وروستیو وختونو کې د بادغیس په ولایت کې وشول دوه دېرش کلاشنکوفونه او یوه زیاته اندازه ډول ډول مهمات تر لاسه شویدي .

ستاسو لیکونه او ...

کانې ، بوټي یې هرڅه په وینو سره دي
همدلته په هر چا شوي ګلزار دي
* * * * * * * * * * * * *

د شریعت اوونیزې محترم مسؤول مدیر او درنو کارکوونکو
السلام علیکم و رحمت الله و برکاته

محترمو ورونو دا مې څو وړ لیك دي چې درلېږم یې نه پوهېږم چې ولې نشر نه شول هیله ده چې دا لیك مې راته نشر کړئ .

افغاني ځوانانو !

افغانستان یو غرنی هیواد دي چه د آسیا په زړه کښې قرار لري ددي هیواد په غرونو کې د اسلام کلك سنګرونه دي چه هیڅ دښمن یې تر اوسه پورې د لوي الله په فضل او کرم سره په نیولو نه دي بریالي شوي سره ددې چې په طول د تاریخ کې ډېر ځله د دښمنانو تر حملو لاندې راغلي، ځکه دا د هر غلیم او دښمن مدفن او هدیره ده .

ددې خاورې باتورو او زړورو خلکو نه تنها خپله آزادي ګټلې بلکې څلور ځله یې ټوله نړۍ د ظالمانو له ظلم څخه خلاصه او د اسارت کړۍ یې ټوټې ټوټې کړې دي. چې په دې ډول نړۍ د افغانانو د احسان پوروړې دي چې هغه لوېې امپراطورۍ په لاندې ډول دي :

۱ - هر کله چې مقدوني سکندر چه تقریباً ټوله نړۍ یې نیولې وه او دده د ظلم څخه ټول خلك ترستوني راغلي ؤ بالاخره یې په افغانستان باندې حمله وکړه او تقریباً د دوه کالمو په اوږدوکې یې ونشوای کولای چه افغانستان په خپله سلطه کښې راولي اما بیا هم بریالي نشو .

۲ - چنګیزیانو چې په ډېر ظلم او وحشت سره یې یوه لویه امپراطوري جوړه کړې وه خو چې په افغانستان یې حمله وکړه نوشوم مراد یې له خاورو سره خاورې شو او الله«ج» ناکام کړل

۳ - هر کله چې د انګلیس د امپراطورۍ لړۍ د افغانستان تر سرحده پورې راورسېدلې وي ، نو بالاخره په افغانستان باندې درې ځله حمله وکړه او درې ځله یې ددې ملك د غازیانو سره زور وازمویه اما خپل شوم هدف ته ونه رسېدل او ناکام شول .

٤ - هر کله چه شوروي په ټوله نړۍ کښې لوي هیواد بلل کېده او د زور او قوت څخه یې ټوله نړۍ لړزېده هغه هم په دې مظلوم هیواد تجاوز وکړ چې نتیجه یې ټولو ولیدله .

دا چې زموږ غیرور وطنوالو څلور ځله نړۍ ته درس ورکړې اوله ظلم څخه یې وژغورل خو د دوی باغونو میوه ونکړه علت یې د چوکۍ محبت د فاجرو دوستې د لندن او پاریس په پارکونو کې چکروهل ، د خپل مسلمان ورور وینې تویول، په خپل مینځ کې نفاق او بې اتفاقي پیدا کول، خپل مظلوم وطنوال ځورول او ... وو .

ګرانو ځوانانو ورونو! دا د لمر نه روښانه حقیقت دي چه ځوانان د یوې ټولنې د جوړولو او ورانولو، په ملك کې د انقلاب راوستلو توان او طاقت نسبتاً نوروته زیات لري او دوي ته الله تعالي نه ستړې کېدونکي قوت بښلي لکه چه حضرت عمر فاروق «رض» فرمایي آي دځوانانو ټولیه! تاسې[a] باستي جوړوونکي او خرابوونکي . نو راځئ چې د خپلو متو زور او توان د قرآن د حاکمولو او په وطن کې د محمدي شریعت د نافذولو لپاره وقف کړو، او ددې ملك تاریخ یو ځل بیا په زرینو کرښو باندې ولیکو، او د سید جمال الدین . افغاني، احمد شاه ابدالي، سلطان محمود «غزنوي» میرویس خان «هوتکي» غازي محمد جان خان وردګي کارنامې را ژوندي کړو.

راځئ چه خپل ځانونه د علم په رڼا منور کړو، او د هغه په رڼا کې په پوره بصیرت او پوهې سره دا ځل د خپلو یو نیم میلیون نه زیاتو شهیدان، کونډو ، او شهیدانو ارمانونه په ځاي او د ډېر سرو یتیمانو اوښکې ورپاکې کړو. راځئ چې خپل ټول ملك کې د اسلامي حکومت او محمدي شریعت د پوره ناقدولو په خاطر د افغانستان د اسلامي تحریك د طالبانو سر تر آخري سلګۍ پورې په پوره صداقت او شجاعت سره قدمونه واخلو .

راځئ چه د الله سره په کلکه میثاق وکړو چه زموږ په ملك کې نه بلکې په ټوله نړۍ کې د قرآن حاکمول ، او د محمدي شریعت جاري کول زموږ ایماني او وجداني دنده ده په دې لاره کې به تر قیامته پورې نه ستړي کېدونکي ګامونه اخلو په آخر کې د ټولو ځوانانو نه هیله کوم چه د خپل قوت نه د الله د دین لپاره کار واخلي، د الله نه په هر ځاي کې وویرېږي او بیا خصوصاً د هغو افغاني ځوانانو نه چه په پېښور کې اوسیږي او د غرب زړانده تقلیدونه کوي او د خپلو نیکونو او پلرونو همتونه یې هېر کړي

ژوندي دې وي د افغانستان با احساسه او بیدار ځوانان، نابود[b] وي د شرق او غرب زړانده تقلیدیان ، ناکام دې وي د اسلامي تحریك خارجي او داخلي دښمنان، سره دوي د ټولې نړۍ کافران او کمونستان

طالب العلم حیات الله «مولوي زاده»
* * * * * * * * * * * *

محترم ورور ن . ر لیوال صاحب

زموږ سلامونه او احترامات هم ومنئ؛ لیك او مضمون دې راورسید خو د ځینو نیمګړتیاو له مخې له نشر نه پاتې شو هیله ده چې خوابدي شوي به نه یئ او خپله قلمي همکاري زموږ سره جاري وساتئ . درنښت

اداره

طالبان د ملت مخلص بچیان دي دوی ملت د مفسدو او کمونستو عناصرو له ...

ځکه موږ له افغانستان نه ډیرې بدې خاطرې درلودې موږ به دوی ته مشوره نه وه ورکړې چې په افغانستان حمله وکړي .

مولوي صاحب وویل : د روسانو او د هغوی د ګوډاګیانو په ضد وسله وال جهاد کې ټول مسلمان ملت ګډون وکړ او د جهاد کښتۍ یې د بري درشل ته ورسوله خو متاسفانه چې ځینو مفسدو ، شریرو، ملت او تاریخ ته شرمېدلیو، خائنو او ظالمو عناصرو د خپل هوا او هوس لپاره د جهاد ارمانونه له خاورو سره خاورې کړل . او په کابل یوه بدمرغه داسې اداره حاکم شوه چې مصروفیت یې د خلکو وژل یې عفته کول ، چور او تالان وو، چې ددې اعمالو په لیدلو اصلي مجاهدین له صحنې ووتل او په کور کښیناستل او ځای یې فساقو ، فجارو او بې رحمه قوماندانانو او ټوپکیانو ونیوه چې ټول افغانستان یې په کندواله بدل کړ . خو الله «ج» نور په دې ملت رحم وکړ او د خپل دین او ددې مظلوم ملت د نجات لپاره یې طالبان وهځول .

مولوي صاحب وویل دلته تاجك، ازبك، پښتون نورستاني او شیعه ټول ورونه دي .

محترم مولوي صاحب زیاته کړه : ورونو د طالبانو اوسنې قیام جهاد دي، ځکه اوس جنګ د کمونیزم له پاتې شونو سره دي اوس ګلبدین او رباني له صحنې وتلي او د کمونیزم ګوډاګیان دوستم او ... په صحنه کې پاتې دي . نو له دوي سره جنګېدل د هر مسلمان فریضه ده .

د تایمنو او وزیر اباد ...

لین کې تخنیکي عوارض پیدا شوي و او له استفادې نه لویدلي وو بیا فعال او د برېښنا د انرژي کمښت له پلوه ددغه ځاي د خلکو ستونزې لرې شوې د یو بل خبر له مخې په کابل کې د المان د دولت د طبي خدمتونو موسسې د برېښنا د لابراتوار دستګاه ترمیم او استفادې ته برابره کړه .

ددغو دستګاه په فعالیدلو سره د پنځلس زره کیلوواټو لیتوارکیبلونو د نواقصو د پوره کېدلو له امله د کابل د برېښنا ریاست ستونزې بیخي لرې شوې دي چې له دې امله زموږ اسلامي دولت ته زیاته اقتصادي ګټه رسیدلې ده .

د جنګلك او سولیداریتي ...

سولیداریتي موسسې تر منځ د اوبو د لاسي پمپونو د جوړولو تړون په داسې حال کې چې د کانو او صنایعو وزارت سرپرست محترم الحاج مولوي احمد جان هم حاضر و لاسلیك شو چې ددې تړون په اساس له دې وروسته د بهرنیو او کورنیو موسسو د اړتیاوړ ټول لاسي پمپونه د جنګلك په فابریکه کې تولید او ګټې اخیستنې ته وړاندې کیږي .

د یو بل خبر له مخې د کانو او صنایعو وزارت لومړي معین محترم مولوي محمد اعظم علمي د سولیداریتي موسسې اود فابریکو د تولیداتو له مسوولینو سره وکتل . په دې کتنه کې د هغه تړون په ارتباط چې له دې مؤسسې سره د کانو او صنایعو وزارت د صابون جوړولو د فابریکې په باب شوي و خبرې وشوې او هیله څرګنده شوه چې د افغانستان اسلامي دولت له هغو ټولو موسسو سره چې د افغانستان له مظلوم او بې وزلي ملت سره علاقمندي ښیي له هیڅ راز همکارۍ نه ډډه و نه شي .

ولسوالی کامدیش ...

دیگر از علما و شخصیت هاي متنفذ ولایت نورستان اشتراك ورزیده بودند و پس از تلاوت آیاتي چند از قرآن عظیم الشان محترم مولوي محمد صادق و محترم مولوي عبدالظاهر رئیس مرافعه آن ولایت باالنوبه پیرامون اهداف و پالیسي هاي خیر اندیشانه دولت اسلامي افغانستان به تفصیل صحبت نموده و با هیأت اعزامي دولت اسلامي به ولایت متذکره وعده هر نوع همکاري دادند .

د اطلاعاتو او کلتور ...

معلومات ورکړل شول په مقابل کې محترم نور الله «ځدران» په داسې حال کې چې له شریعت اوونیزې سره یې د نورې هر اړخیزې همکارۍ وعده وکړه د یو ټیپ ریکارډر مرسته یې هم له دې اوونیزې سره وکړه چې د شریعت اوونیزې د مسؤول مدیر لخوا په کور ودانۍ ویلو ومنل شو .

په فراه پکتیکا، ننګرهار ...

د خیر کوټ ولسوالۍ له سربرطانو نه هم په دې وروستیو وختو کې یوه اندازه وسلې او مهمات تر لاسه شویدي .

په دغو وسلو او مهماتو کې پنځه کلاشینکوفونه ، یو منځنۍ توغندي ویشتونکي، یوه دهشکه لس - لس ډزي ټوپکونه د دهشکې پنځلس صندوقه ګولۍ او د ټانك ضد پنځه ماینونه شامل دي چې ددې ولایت د امنیتي منسوبینو د هاند او هڅو په نتیجه کې تر لاسه شول اود پکتیکا ولایت امنیي قوماندانۍ ته وسپارل شول .

دغه راز د دوه اتیا ملي متري توپ اته ویشت ګولۍ او دهشکې یو سلو پنځه ویشت صندوقه ګولۍ، د اوبو یو ټانکر موټر او یوه اندازه ډول ډول مالونه چې مخکې د ننګرهار ولایت په سربرطانو کې پټ کړاي شوي و د جلال اباد ښار د مؤظفینو د هلو ځلو په نتیجه کې په دې وروستیو کې کشف او تر لاسه شول

همدا راز پنځه کلاشینکوفونه د کابل په لومړي حوزه کې هم تر لاسه شول

د خاځیو د قوم دوه سوه ...

مجاهدین ، طالبان او د ځاځیو د قوم عالمان یکي دي د افغانستان د اسلامي اردو د مجاهدینو د سنګرونو او مورچلونو د پیاوړتیا په خاطر په داوطلبانه توګه د جبهې په لومړیو کرښو کې تنظیم شویدي .

د سولې او ثبات د تأمین او په هیواد کې ملحدو او کمونستو عناصرو د وروستیو ځالو دله منځه وړلو په خاطر د مجاهدینو، طالبانو او د عالمانو د کاروانونو د را رسیدلو لړۍ دوام لري .

تر پرست وزارت معادن ...

وزارت معادن وصنایع که زمینه هاي استخراج معدن کرومیت را در ولایت لوګر فراهم نموده اند اظهار قدرداني نموده توجه بیشتر آنانرا در این زمینه خواستار ګردیده و به مسوولین هدایات لازم داد .

د ګډون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلنی
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

اطلاعیه اشتراك در مسابقه علمي و تحقیقاتي

به اطلاع محصلین پوهنتون ها و مدارس و متعلمین مکاتب شهر و طلباي کرام احترامانه رسانیده میشود که ریاست کتابخانه هاي عامه و آرشیف ملي در نظر دارد تا تحت عنوان (نقش کتاب در جامعه) سیمینار علمي و تحقیقاتي را براه اندازه .

اشتراك کنندګان میتوانند در موضوع فوق از شعبات کتاب خانه هاي عامه که مواد کافي به اختیار دارد استفاده نمایند .

البته در جریان سیمینار علمي و تحقیقاتي دانشمندان و علما جید کشور اشتراك داشته و براي برندګان جوایز مختلف در نظر ګرفته شده است .

علاقمندان میتوانند هر چه زودتر بخاطر ثبت نام همه روزه از ساعت ۸ صبح الي ۱۲:۳۰ ظهر و از ساعت ۳ الي ۶:۳۰ بعد از ظهر بریاست کتابخانه هاي عامه مراجعه نمایند . آغاز مسابقه تاریخ ۲۵ سرطان سال جاري ساعت ۲ بجه بعد از ظهر تعین ګردیده است .

آدرس ریاست کتابخانه هاي عامه و آرشیف ملي چهاراهي ملك اصغر .

د ازمویل شویو ازمویل خطا دي

که د جهاد د تاریخ پاڼې یو ځل بیا وکتلای شي هلته یکې تجربې دي او خاطرې . اتحادونه شوي ائتلافونه شوي ، تړونونه شوي خو تر هغه جوړ دي څو د ځینو ګټې یکې خوندي وي . د نوي معجون چې کفر، فسق او هر څه یکې را نغښتي دي، اهداف او غرضونه خو هرچانه معلوم دي، د جهاد په خلاف د امنیت په ضد او د ګران هیواد د تجزیې یو تحریك دي .

دا معجون د نورو تر کیبونو لړۍ ده چې کفر او اسلام به سره ګډېده د شخصي او سیاسي ګټو د ساتلو په غرض به یې دین او جهاد هر څه هیرول او یکې به صبغې او رنګونه بدلیدل د هیواد د شمال په یوه کونج کې چې په او مړې تار څو کسان سره ټول شوي دي د څو ورځو د پاینښت له پاره څه هلې ځلې کوي خو نړۍ وریاندې غولیدلې بهرنې هیوادونه او ځواکونو یې په شا ټپوي تر څو وي چې خپلې ګټې وریاندې خوندي او خپل شوم اهداف چې د اسلام او افغانستان په خلاف دي ، وریاندې تر سره کړي، هیوادونه خو هر یو غرض لري او هدف، خو دا چې موږ وریاندې غولیږو ازمویل شوي کسان بیا ازمویو او یا خدای«ج» مکړه له یوه غار څخه دوه ځله چیچل کیږو.

د هیواد د یوه کونج ډلګۍ خو وروستنۍ ناغیږې هله وکړه چې د طالبانو له تحریك سره یې د ټولو اصولو په خلاف کړه وړه سرته ورسول .

نن سبا بیا داسې کسان تحریك چلوي چې ګواکې د سولې لاره پیدا کړي ددې کسانو نیت به ښه وي، خو هلته ښه توب نشته ، هلته هغه څېرې دي چې د الحاد او فسق مهرونه په تندو لري، د خپلو کړو وړو تاریخ یې اوس هم تور لیکل شوي .

د اسلامي دولت په چوکاټ کې تر اوسه آن دا چې جهادي تنظیمونو ته په سیاسي او اداري چوکاټ کې داسې برخه ورکړل شوي نده کومه چې د تحزب او تفرق بوی ترې را ولاړ شي . که همدې ډلګۍ ته کوم امتیاز ورکول کیږي نو دا خو به په ډېرو شیانو سترګې پټول وي ، نو نه دې هغه ډلګۍ او نه هم مصلحین دا تمه لري چې اسلامي دولت دې داسې څه ورسره وکړي چې تر نورو یې ونډه زیاته او امتیاز ډېروي د جهاد د هدف د تحقق ، د امنیت د خوندي کولو او د هیواد د ځمکني بشپړتیا د ساتلو په منظور به هغه څه کیږي کوم چې شوي دي هو د هغې ټولې وسلې ټولولوکوم چې د افغانستان د ورانۍ سبب ګرځیدلې او بیا په یوه متمرکز یا قدرتمنه اسلامي حکومت کې د افغانستان د ټولو سمسونو، قشرونو او ژبو په ګډون سره کښیناستل او د افغانستان له پاره خدمت کول .

د افغانستان د اسلامي دولت ددې سپېڅلي هدف په خلاف که څوك وسله واله مبارزه کوي او یا سیاسي تخریب، د سولې او روغې په نوم فرصت غواړي او که په نورو نوموتو، فریبونو او چلونو اسلامي دولت مصروفوي هسې د غټې په تار کور جوړوي چې نه به وریاندې اسوده شي او نه هم له جهادي ضربو څخه خوندي .

علماء بزرګان و موسفیدان ولسوالي بګرامي ولایت کابل پشتیباني شانرا از دولت اسلامي افغانستان اعلام نمودند

علما بزرګان و موسفیدان ولسوالي بګرامي ولایت کابل ضمن ختم قرآن عظیم الشان حمایت و پشتیباني شانرا از دولت اسلامي افغانستان اعلام نمودند .

آژانس اطلاعاتي باختر ګزارش داد در محفل که بهمین مناسبت در آن ولسوالي برګزار شده بود چند تن از علما و ملا امامان مساجد در رابطه به اهداف و برنامه هاي دولت اسلامي افغانستان توضیحات داده سهمګیري هرچه بیشتر مردم را در انفاذ شریعت غراي محمدي ﷺ خواستار شدند .

در مقابل چند تن از موسفیدان و نماینده ګان مردم به نماینده ګي از مردم آن محل صحبت نموده ضمن ارائه پیشنهادات و خواسته هاي محیطي شان ابراز آماده ګي کردند که جهت محو کامل عناصر شریر و توسعه دولت اسلامي شان از هیچ نوع ایثار و فداکاري دریغ نمیورزند .

در ختم محفل محترم مولوي محمد اسمعیل «فاروقي» ولسوال بګرامي از این احساس ملي و اسلامي مردم آن ولسوالي قدرداني نموده به آنها اطمینان داد که به زود ترین فرصت جهت حل مشلکلات و بر آورده شدن خواسته هاي آنها اقدام خواهند نمود.

محفل باتحاف دعا به روح پاك

د منګنیو طبي زده کړو د انستیتوت د برېښنا جریان فعال شو

د منځنیو طبي زده کړو د انسټیټیوټ د برېښنا جریان چې د څو کلنو جګړو او ناارامیو له امله قطع شوي وو بیا فعال شو .

د منځنیو طبي زدکړو د انسټیټیوټ یو مسؤول د شریعت اوونیزې خبریال ته وویل چې د برېښنا جریان د سټدیکال د موسسې په مالي مرستو او ددې انسټیټیوټ د پرسونل د هلو ځلو په نتیجه کې فعال او نوموړي انسټیټیوټ روښانه شو .

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Movement of Taliban - Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Add: House # 520, str#11,
Wazir Akbar Khan Minah,
Kabul - Afghanistan, Tel # : 21381
Peshawar ,Tel # : 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar